دوی دواړو ته عذاب ورکول کیږي، او په کومه لویه ګناه عذاب نه ورکول کیږي؛ یو له دوی څخه به له تشو متیازو ځان نه ساته او بل چې و نو هغه به د خلکو تر منځ چغلګري کوله

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي: رسول الله صلى الله عليه وسلم په دوو قبرونو تېر شو نو ویې فرمایل: «دوی دواړو ته عذاب ورکول کیږي، او په کومه لویه ګناه عذاب نه ورکول کیږي؛ یو له دوی څخه به له تشو متیازو ځان نه ساته او بل چې و نو هغه به د خلکو تر منځ چغلګري کوله » بیا یې یوه لنده (لمده) لخته راواخیسته، دوه ترازې یې کړې، او په هر قبر یې یوه لخته وټومبله، هغوی وویل: اې د الله جل جلاله رسوله؟ دا کار دې ولې وکړ؟ ویې فرمایل: « کیدی شي له امله یې له دواړو تر هغه پورې عذاب سپک شي، تر هغو چې دواړه وچې شوې نه وي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په دوو قبرونو تېر شو نو ویې فرمایل: د دې دواړو قبرونو خاوندانو ته عذاب ورکول کیږي؛ او دوی په داسې یو کار سره نه عذابیږي چې ستاسو په نظر کې به کومه لویه ګناه وي، که څه هم د الله تعالى په نیز لویه ګناه ده، له دې دوو څخه یو یې د حاجت پر مهال له ادرار څخه د ځان او جامو ساتلو څخه بې پروا و، او بل به یې د خلکو تر منځ چغلګري کوله، د نورو خلکو خبرې به یې د ضرر رسولو او د خلکو تر منځ د اختلاف او درز اچولو په موخه وړلې راوړلې.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3010